

Monthly Logar

میاشتنی خپرونه

لوګر

ماهنامه

دو شنبه د۱۳۹۸ کال د زمري د میاشتې اته ویشتمه، د ۲۰۱۹ عیسوي کال د اګست نولسمه | ۴ | پرله پسې ګڼه (۱۰۵) لومړی کال، څلورمه ګڼه


آزادي نـــر پـــاد شــاهـيــه لانــيرى كــــا      چې ديل نرحكم لاندې شي زندان شي

# دخپلواکۍ ملي مبارز غازي امين الله خان لوګری



غـازي امـين الله خـان لـوګری (۱۷۸۲ زېږديـز – ۱۸۵۷ زېږديـز) د افغانسـتان د خپلـواکۍ يـو ملي مبارز ګڼل کېږي نوموړي د ښو اخلاقو او په ښه صادقه توګه د دندو ترسره کولو له کبله ورتـه د وخت د واکمنۍ لخوا د امـين الدولـه لقب ورکړ شوی. دی د انګرېز پـه لـومړۍ جګـړه کې برخه درلوده.

ده ته د هغه د هېواد پالنې او اسلامي ولولو پر بنسټ چې يې د پردو يرغلګرو پـه مقابل کې د پاڅون نقشه جوړه کړه او د هغې پر بنسټ يې لـه افغانانو څخه په دفاع کې ودرېد د افغانسـتان خلک يې د غازي په نوم يادوي. غازي امين الله خان لوګری پـه ۱۱۹۷ سپوږميز کال کې د لوګر ولايت پـه برکي راجان کې زېږېدلی. پـلار يې ميرزايي خان د تېمور شاه دراني د واکمنۍ پر وخت د کشمير حاکم ؤ او مور يې د کمال خان خرم خېلي لور وه.

مخينه

غازي امين الله خان لوګری د افغانسـتان د ملي اتلانو له کتاره شمېرل کېږي. دی يـو زړه ور، د لوړ عزم او همت خاونـد ؤ، ځکـه يې انګرېـزي تـاريخ پوهـانو خپلـو ليکنـو کـې د انګرېـزي ښکېلاک پر وړاندې نوموړی تر ټولو لوی خنډ ګڼلای. د پلار له مړينې څخه وروسته د وخت د واکمن پاملرنه وروا وښته. دی د بُتخاک حاکم وټاکل شو د سيمې د خلکو د سوکالۍ او امن لپاره يې ډېر د خير ښېګڼې کارونه وکړل، چې له مخې يې خلکو کې ډېر محبوبيت ترلاسه کړ او د امانتـدارۍ او ايمانـدارۍ لـه کبلـه يـې حکومت د امين الدوله لقب ورپه برخه کړی.

د وخت د مروجه ديني علوم يې لوستي ؤ او د ښو ليـک او لوست خاونـد ؤ. وروسـته لـه هغـه چې پلار يې په کشمير کې ومړ، نو د تېمورشـاه ابدالي لخوا يې د پـلار د تقاعـد تنخوا چې د کاله دوه سوه تبريزي تومانه کېدل او د څلورو زرو روپو معـادل ؤ پـه مسـتمرې توګه يې ده تـه وټاکل.

## د انګرېزانو پر وړاندې پاڅون

کله چې انګرېزانو پـر افغانسـتان يرغـل وکړ او شاه شجاع يې د کابل پر پلاز مېنه کېناوه نـو پـر وړانـدې يــې د هېـــواد پــر ګــوټ ګــوټ او پــه ځانګړې توګه په کابل کې ملي پاڅون پيـل شـو. دغه پاڅون په لومړي سر کې څو تنـه مشـران او لارښوونکي لرل چې يو لـه هغـو څخه امين الله خان لوګری ؤ.

امين الله خان لوګري په خپله سيمه کې خلک د انګرېزانـو پـر وړانـدې جهـاد تـه راپـاڅول او بالاخره په هغه پاڅون کې يې چې ۱۲۵۷ هـ ق کال په کابل کې عملاً پيل کړ، ډېر ستر رول درلود. همدا رنګه يې وروسته په هغو ټولـو جګـړو کـې چې د کابـل شاوخوا سـيمو کـې د انګرېزانـو پـر خـلاف وشـوې او پايلـه کـې يـې انګرېـزان د افغانسـتان څخه تېښـتې تـه اړ شـول ډېـره مهمـه ونډه لرله او پـه زړورتيا يې د غازيانو مشـري او لارښـوونه کولـه. دا پـاڅون د انګرېزانـو او د هغـوی د لاسپوڅي شاه شـجاع پـر وړانـدې پيـل شوی وه.

## د کابل ببرنۍ جرګه

د پاڅون مشـرانو د غـازي عبدالله خان اڅکزي په کور کې جرګه وکړه. د خپـل ملي پاڅون او غورځنـګ نقشـه يـې جـوړه او د هغـې د عملـي کولو لپاره يې ټينګ عزم او هوډ وکړ. د ځينـو پېښليکونکو پـه حوالې داسې ويل کېږي، چې پـه همـدې جرګـې کـې د غازيـانو لخـوا نـواب محمد زمان خان د پاڅون مشر او امين الله خان لوګری د هغـه مرستيال يـانې نايـب وټاکل شو، نو ځکه هم امين الله خان لوګری د نايـب سالار پـه لقـب مشـهوره دی. د جرګـې نـور غـړي پـه لاندې توګه ياديږي:

غازي سکندر خان

غازي عبدالسلام خان

## د افغان او انګرېز لومړۍ جګړه

د افغـان ـ انګرېـز لـومړنۍ جګـړه پـه کـال ۱۸۴۲ زېږيز کـې د برتـانوي ـ هنـد لخـوا پـه افغانسـتان بانـدې د يرغـل پــه تــرڅ کــې پيــل شــوه او د پرنګيــانو لښــکر د صــفرې پــه مياشــت کــې افغانسـتان تـه ورننوتـل. دا د نړۍ پـه تـاريخونو کـې د لـويې لوبې پـه نوم يـاده شـوې او دا ځکـه چې د ۱۹ مې پېړۍ د ځـواک پـر سـر د ښـکرورو دوو ځـان منلیـو روسـيې او امريکـې ـ انګرېـز لخـوا پـه منځني اسيا بانـدې د خپـل نفـوذ اچولـو د سيالي پـه تـرڅ کـې تـوده شـوه او دا د ختيـځې هنـدي کمپنۍ چې انګرېزانو يې پـه پلمـه هنـد او شاوخوا سـيمې ونيـولې او د خپـل د لالـچ لـه کبلـه د نفـوذ زيـاتولو پلانونه جوړول. د انګرېزانـو پـه تـاريخ کـې د افغـان ـ انګرېـز جګـړو تـه د انګرېـز راج يا انګرېز قوت لپاره د يو ډېر لوی ګـوزار پـه سترګه کتل شوی.

وروسـته لـه هغـه چې کله انګرېزي ځـواکونـه د کابل له ښاره ووتل او شاه شجاع ووژل شو، پـه دغه وخت کې امير دوسـت محمـد خـان پـه هنـد کـې انګرېزانـو سـره بنـدي ؤ، نـو د شـاه شـجاع زوی فـتح جنـګ د کابـل پـه بالاحصـار کـې د پاچهۍ اعلان وکړ.

دده او نـواب محمـد زمـان خـان تـر منـځ پـه واک بانـدې جګـړې پيـل شـوې. دلتـه وزير محمـد اکـبر خان د جلال آباد څخه کابل تـه راسـتون شـو او د فتح جنګ سره د مرنجان تپې ته څېرمـه خـونړۍ جګـړه پيـل کـړه. پـه همدغـه مهـال امـين الله خـان لـوګری د انګرېزانـو پـه مشمشـو ډېـر پـوی ؤ نـو يـې د پښــتنو تــر منـځ د يــووالي د ســاتلو او حکـومتي انـډول د سـاتلو پـه موخـه او دا چې د ګډوډيو او ويـنې تويـولـو مخـه ونيسـي پـه پـوره پـوهې يـې د يـوه ملي مصلحت لـه مخې غـازي محمـد اکـبر خـان د فـتح جنـګ وزيـر ونومـاوه، وروسته له هغه پـه خلکو کې د وزير محمد اکـبر خان پـه نوم مشهوره شو.

د انګرېـز جنـرال پالـک پــه مشـرۍ انګرېـزي ځـواکونـه د فتح جنګ پـه ننګه او ملاتړ بيا کابـل تـه راغلـه. وزير محمد اکبر خان د باميان ولايت تــه ولاړ. نــواب محمـــد زمان خـــان، چـــې انګرېزانو خپل دوست ګاڼـه، لـه مقاومت څخـه لاس واخيست او پخپل کور کښېناست.

د ملي غازيـانو ډېرى مشـران شـهيدان شـوي او غازيــان تــر ډېــره خــواره واره شــوي ؤ. پــه دغـه وخت چې يوازې کس د پـاڅون او مقاومت پـه ډګر کې د غازيانو له کتاره پاتې ؤ، هغـه غـازي امين الله خان لوګری ؤ. نوموړي د پروان ولايت د سيمې غازيان پر ځان راټول کړل د استالف پـه غونډيو کې يې د انګرېزي قـوا و سـخته مقابلـه وکړه او تر پايـه يـې لـه مقاومتـه څخه لاس وانـه خيست. له همدې امله ډېرو انګرېزي مورخينو پـه خپلـو ليکنـو کـې دغـه نوميـالی افغـان اتـل خپل لومړی درجه، نه پخلا کېدونکی دښمن بللی دی.

## پاتې ژوند او مړينه

کله چې امير دوست محمـد خـان پـه دويـم ځـل د پراخ افغانستان پاچا شو، دغه نوميالی غـازي يـې د حکومتـدارۍ د لالـچ لـه کبلـه او يـا هـم د ځينـو کړيـو پـه لمسـون د خپلـې واکمنـۍ تـه د خطر لـه املـه پـه بالاحصـار کې بندي کړ او بيـا هلته په بند کې په کال ۱۲۷۴ هـ.ق د ۸۷ کـالـونو پـه عمر وفات شو.

**سرچینه : لوګر ویب سایت**

## د غازي امير امان الله خان اداري تګلاره

**ليکنه: انعام الله خاموش**

**د احمد شاه بابا د واکمنۍ څخه نيولې تر امير حبيب الله خان د واکمنۍ پورې اداري سيستم دوديز او پخوانې ؤ، خو کله چې غازي امان الله خان د خپل پلار د مړينې څخه وروسته واک ته ورسـېد ډېـره ليوالتيـا يـې درلوده، چې اداري سيستم نوی او عصري کړي.**



**مخکې له دې چې په اداري سيستمونو کې بدلون او سـمون راولـې او د وخت غوښتنو او اړتياوو په نظر کې نيولو سره اداري سيستم تـه پراختيـا ورکړي. لومړی يې د خپلو دولتي لوړ رتبه مامورينو سره مشوره وکړه او د هغه له مخې د دولت په درې ګونو قواو کې ژور اصلاحات او بدلونونـه راوستل او دوديزه اداره يې په عصري اداره بدله کړه او دا اصـلاحات او بدلونونه د کسبګر، مالدار او بزګر په ګټه ؤ او خلک د پخوانيو درنو ماليات او حوالو څخه په تنګ او خفه ؤ. همغه ؤ، چې اصلاحات او بدلونونه په هره برخه کې راغلل او دغه اصلاحات د ولس له تود هرکلي سره مخ شو دلتـه په دې برخه کې په لنډ ډول يوازې د نمونې په توګه د هغه څه څخه بحث کوو، چې د غازي امان الله خان پــه واکمنــۍ کـوم ډول بدلونونــه او اصلاحات راغلل او په کومو برخو ته ډېره پاملرنه وشوه .**

**په لومړي قدم کې غازي امان الله خان د هېواد اصـلي وثيقـې اساسـي قانون د سمون څخه پيل وکړاو اساسي قــانون يــې د شــريعت او ملــي ارزښتونو سره سم تنظيم او توشيح کړ او د همدې اساسي قانون پــه (۱۶) ماده کې داسې صراحت درلود: (د افغانستان ټول وګړي د شـريعت او د دولت د قانون پر وړاندې د هېواد په حقوقو او دندو کـې مسـاوي حـق لري.) همدارنګه په (۱۰) ماده کې راځي: (د شخص خپلواکې د هر ډول تېري څخه په امن کې ده، هېڅوک پرته له شرعي حکم او قـانوني نظـام څخه چاته سزا نه ورکول کېږي...) دا او دېته ورته نورې ټولې مـادې د افغان ملت او نظام او شرعي اصولو او ارزښتونو خلاف نـه وې، بلکـې د شريعت مطابق او اداري سيستم د پياوړتيا په پار وې. چې بيا وروسته يـاد اساسي قانون په (۷۳) مادو او (۱۰) څپرکو کې په ۱۳۰۳هـ.ل کال کې د پغمان په جرګه کې (۱۰۵۰) تنو په ګډون تصويب او د سلواغې مياشـتې په ۸مه نېټه د پلې کېدو وړ وګڼل شو.**

**دا معاصر تاريخ لومړنی اساسي قانون ؤ، چې د ملت پر وړاندې جوړ شو. د اساسي قانون تر څنګ د اساسي قانون په رڼا کې يو شمير نــور عــادي قوانين هم رامنځته شول، چې د هغې جملې دا لاندې يــو شــمېر عــادي قوانين دي :**

**۱ــ د حاکمانو او مامورينو د دندو د وېش قانون ۲ــ پـوځي خـدمتونو او تعليماتو قانون ۳ــ د سرشمېرنې او تذکرې اخيستنې قانون**
**۴ــ مطبوعاتو قانون ۵ ــ د دولتي ودانيو جوړولو قانون**
**۶ ــ د دولتي املاکو د پلورلو قانون ۷ــ د تحصيل او ارزونې قانون**
**۸ ــ د سوداګرۍ چارو شرعي محاکمو قانون ۹ــ مقياساتو قانون**
**۱۰ــ د صنايعو او تشويق قانون ۱۱ــ د زندانونو د څار قانون**
**۱۲ــ للمې قانون ۱۳ ــ يتيم پالنې او روزنــې قــانون ۱۴ــــ د کرنــې د مامورينو د ښوونې قانون ۱۵ــ تعزيه دارۍ قانون ۱۶ــ د دولتي القابو او نښو نښانو قانون ۱۷ــ کورنيو ښوونځيو د خدمتونو قانون ۱۸ــ د شـرعي نکاح او ختنې(سُنتې) قانون .**

**دېته ورته نور لسګونه قوانين د ټولنې د سمون او تنظيم په پـــار جـــوړ او رامنځته شول. د وزارتونو د چارو د اجرا لپاره منظم مهــالوېش د اونــۍ ورځې : شنــبه؛ ښوونيز او روزنيزو چارو اجــرا، مــالي چــارو اجــرا، سوداګريزو چارو اجرا.**

**يکـــشنبه؛ حربيه يا دفاعي چارو اجرا، کورنيو چارو اجرا.**

**دوشنبـــه؛ وزيرانو شورا مجلس .**

**سه شنبه؛ د وزارتونو د پلان شوو چارو د سرته رسولو ارزول او لازم تدابير نيول . چهــارشنبـــه ؛بهرنيو چارو اجرا او لازم تدابير نيول .**

**پنجشنبـــه؛ ځانګړې ياور اداره امنيتي چارو اجرا عدلې چــارو اجــرا، د کرنيزو چارو اجرا .**

**د هېــواد د خپلواکۍ د سلمــې کليزې په وياړ ليکنه!**

**د يو آباد او سوکاله افغانستان په هيله!**

# استقلال افغانستان ثمره جانبازی ها و فداکاری های افغانها

**نویسنده : عصمت الله مبارز «ستانکزی»**

**صد سال پیش از امروز مردم آزاده افغان ثمره جانبازی ها، قهرمانی ها و مبارزات استقلال طلبانه یی فرزندان خویش را دریافتند. استقلال کشور را که در نتیجه یی تهاجمات و لشکر کشی های پی در پی دولت برتانیا سلب گردیده بود رسماً اعلام نمودند.**

**حافظه تاریخ قهرمانی ها و فدا کاری های آن وطن خواهانی را که در لحظات دشوار با اقدام جسورانه و احساس پاک خود سر ها به کف بخاطر دفاع از منافع وطن و مردم رزمیده اند و می رزمند هرگز فراموش نخواهد کرد از جانب خویش به روح پاک همه شهدای گلگون کفن وطن که جانبازانه در راه استقلال، آزادی و تحقق آرمان های آن رزمیده اند و با نثار گرامی ترین سرمایه هستی خود به آینده گان درس پافشاری در نبرد مبارزه را دارند، اتحاف دعا نموده و از بارگاه خداوند متعال برایشان طلب مغفرت مینمایم.**

**جشن استقلال به مثابه ارزش سیاسی و معنوی همه افغان ها در هر جای که قرار دارند مورد مباهات تجلیل و تکریم است و این روز تاریخی و ملی را گرامی داشته از جانب خویش صدمین سالگرد استقلال وطن محبوب خویش را به همه شما خواهران و برادران به مهاجرین و افغان های خارج از وطن در هر جای که قرار دارند تبریک و تهنیت عرض میدارم.**

**افغان ها درس حُریت، آزادی، استقلال و دفاع از عدالت اجتماعی را از اجداد و نیاکان خویش آموخته و برای حِراست نوامیس ملی، استقلال و تمامیت ارضی کشور پر افتخار شان قهرمانانه رزمیده و هرگز سر تسلیمی فرود نیاورده است این کشور مرد خیز و شیر مردان هرگز در برابر حوادث ناگوار و لشکرکشی های مهاجمین تسلیم نگردیده بلکه آنان را در آخرین تهدید با شکست مرگبار مواجه ساخته است.**

**مقاومت دلیرانه مردم افغانستان در گذشته در سه جنگ افغان انگلیس نمایانگر آزاد مشی مردم کشور ماست این ملت قهرمان و هزاران هزار قهرمان ملی مانند امین الله خان لوگری، میرمسجدی خان کوهستانی، وزیر محمد اکبر خان، محمد عثمان پروانی، محمد جان خان وردگ، غازی محمد ایوب خان و غازی امان الله خان در دشوار ترین روزهای تاریخ ترانه یی استقلال و آزادی را زمزمه نموده و برای حصول و حفظ آن پیکار و مبارزه نموده راه مردان شمشیر و سخن در معرکه های نبرد آزادی و استقلال همیشه زنده اند و کارنامه هایشان منبع الهام راهیان راه آزادی و دفاع از وطن بوده است و خواهد بود.**

**شاه امان الله خان غازی که از شهرت وطن دوستانه برخوردار بود پس از مرگ پدر در اثر تعهد به سران وطن بخاطر اعلان استقلال کشور زمام اداره وطن را بدست گرفت او پنج روز بعد از اعلام سلطنت استقلال و آزادی تمام افغانستان را اعلان کرد.**

**استعمار گران و تجاوز گران که دو بار در برابر قامت های آزاده و بلند مردم سلحه شور افغانستان به زانو در آمده بودند حاضر نگردیدند تا واقعیت های جامعه افغانی را به آسانی بپذیرند و به خواست مبرم کشور ما مبنی بر آزادی و استقلال سیاسی تن دهند آنها که بار ها از نیرنگ و شمشیر استفاده کرده بودند در صدد آن شدند تا بار دیگر اراده مردم افغانستان را آزمایش کنند اردوی سه صد و چهل هزار نفری (۳۴۰۰۰۰) انگلیس با مجهز ترین آلات حربی آن زمان تحت امر (۲۳) نفر جنرال های مجرب آماده گردیده به سر زمین افغان ها تقرب نمود. محاذ های خیبر چترال، قندهار، پکتیا، وزیرستان، پیوار و تل شاهد برخورد های خونین بین آزادی خواهان افغان و استعمار گران گردید سر انجام استقلال افغانستان در (۲۸) اسد (۱۹۱۹) به رسمیت شناخته شد و باب نوین از اصلاحات سیاسی و اجتماعی آغاز یافت. در برابر شاه امان الله خان و جوانان افغان رفع عقب مانده گی های قرون متمادی قرار داشت او در مدت کوتاهی پروگرام های وسیع سیاسی، اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی را روی دست گرفت.**

**شاه امان الله خان غازی با در نظر داشت مؤقف اقتصادی و اجتماعی افغانستان مناسبات کشور را با همسایه گان تحکیم بخشید و به منظور توصیه تماس با کشور های خارجی و انکشاف مناسبات اقتصادی با آنها به یک سلسله سفر ها در بعضی از کشور های اروپایی و آسیایی پرداخت اصلاحات جوانان افغان و شاه امان الله هنوز بطور کلی پیاده نگردیده بود که خصومت های داخلی و خارجی در برابر آن قد علم نمود و تحولات آغاز یافته در اثر دسایس و توطئه ها به رکود مواجه گردید. ...** **بقیه درصفحه سوم**


**د امتیاز خاوند : د اطلاعاتواوفرهنګ ریاست**

Logar لوګر

**مسؤل مدیر : شیرمحمد «امیني» ستانکزی ۰۷۹۹۱۳۱۸۳۵**

**کتونکي ډله : امین الله «صفا» او محمد زاهد «سلطاني»**

**خبریال : محمد موسی «عدیل»**

**ډیزاینر : امینی «ستانکزی»**

**فیسبوک پاڼې:** www.facebook.com/ دلوګرداطلاعاتواوفرهنګ ریاست
www.facebook.com / لوګرمیاشتنۍ

**یادونه : لوګرمیاشتنۍ خپرونه دسرلیکنې پرته؛ دلیکوالانو دلیکنو ننګه نه کوي اومسؤلیت یې دلیکوال پرغاړه ده .**

که چیرې لیکنې لرئ چې په لوګرمیاشتنۍ کې خپرې شي، نو کولی شي چې په لاندې پته یې را واستوئ.

داړیکې شمیره : ۰۷۴۴۴۲۶۴۲۸

دبرېښنالیک پته : Shir.stanikzai2@gmail.com

چاپ ځای : آزادی مطبعه